**بسم الله الرحمن الرحيم**

# پوښتنې ته ځواب

# د نړۍ د تېلو بازارونه (مارکيټونه)

**عبدالعزيز المانيس ته**

**پوښتنه**

اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

الله دې لويه پرتمينه بريا در په برخه کړي او د خلافت کمپله دې ستاسو په لاسونو و غوړېږي.

زما پوښتنه د لومړي دليل (د نړۍ د تېلو بازرارونو) په تړاو ده، چې له امله يې د امريکا او ايران ترم نځ ترينګلتيا رامنځته شوې او دا د دغې پوښتنې يوه برخه ده: په سيمه کې د ايران او امريکا ترمن ځ د ترينګلتيا واقعيت ته په کتو سره څرنګه د تېلو په نرخونو کې زياتوالی د امريکايي شېل تېلو له توليد سره انډول مومي؟

ايا د نوموړي زياتوالي اغېز امريکا له بدمرغۍ سره نه شي مخ کولی؟

**ځواب**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو د پوښتنې په تړاو:

ايا د تېلو د زياتوالي اغېز امريکا له بدمرغۍ سره نه شي مخ کولی او په داسې حال کې چې ټرمپ په وار وار خپلو ګوډاګيانو ته امر کړی، چې د توليد مخه ونيسي؟ موږ د دغې موضوع اړوند ځواب د ۲۰۱۹ د جولای د ۱۲مې په پوښتنې او ځواب ليکنه کې خپور کړی او ښايي له تاسو سره وي. په هغه ليکنه کې تاسو ښکاره ځواب موندلی شئ، چې لاندې ټکي پکې روښانه شوي دي:

۱- د دې لپاره چې همږغي په واقعيت بدله شي، د سعودي-روسيې ترمنځ په اړيکو کې تر ۲۰۱۴ م کال وروسته د پام وړ ښه والی راغلی دی. د ۲۰۱۷م کال د اپرېل پر ۱۰مه ملک سلمان مسکو ته سفر وکړ او دا روسيې ته د سعودي د يوه پاچا لومړنی سفر و. د روسيې ولسمشر او سعودي شه

زاده ترمنځ ګڼې ناستې وشوې او روسیه دې ته لېواله شوه، چې له سعودي عرب سره د وسلو پلورل
و پراخې هوکړې لاسلیک کړي، چې په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د تېلو د اړیکو یو پېر پرانې
ستل شو. دغه ټولې چارې د امریکایي لاسپوڅي ملک سلمان او د هغه د زوی په دور کې وشوې.
د سعودي-روسیې د هڅو په پایله کې د ۲۰۱٦م کال د نومبر پر ۳۰مه لومړنۍ هوکړه د اوپیک سا
زمان او ۱۱ هېوادونو ترمنځ د تېلو تولید د کمولو په تړاو لاسلیک شو، چې له مخې یې اوپیک ساز
مان به خپل د تېلو تولید د ورځې ۱.۲ مېلیونه بېلره راکموي. دا په داسې حال کې چې ۱۱ نور ه
ېوادونه به خپل د تېلو تولید د ورځې ۵٦۰ زره بېلره راکموي، چې له یادې اندازې څخه د ورځې ۳
۰۰ زره بېلره به یوازې روسیه خپل تولید راکموي. د دغې هوکړې تر لاسلیک کېدو مخکې سعودي
عرب ګواښ کړی و، چې په بازارونو کې به د تېلو تولید ډېر کړي، له همدې امله روسیې د بیو د ټ
یټوالي او د تېلو د لیلام کېدو له وېرې له سعودي عرب سره همږغۍ ته مخه کړه، څو د مالي ستونز
و مخه ونیسي. د روسیې ۵۰ سلنه اقتصاد د انرژۍ پر وارداتو (تېلو او ګازو) ولاړ دی.
۲- دې هوکړې د تېلو پر بیو مثبت اغېز وکړ او د ټرون تر لاسلیک وروسته سمدستي د تېلو بیې ج
ګې شوې، خو دا ټرون یوازې د شپږو میاشتو لپاره و او تر دې وروسته به د دې هوکړې د اوږدېدو
پر سر اوږده بحثونه وشي. کله چې د تېلو نرخونه ښه وو، نو روسیې له معمول سره سم غوښتل چې
د خپلې بودجې د پیاوړي کولو لپاره د تېلو استخراج او تولید ډېر کړي. په داسې حال کې چې س
عودي عرب له خپلې ثابتې پالیسۍ سره سم په دې هڅه کې دی، چې د تېلو تولید کم کړي؛ خو
ځینې وخت دا ګواښ هم کوي، چې د تېلو تولید به دومره ډېر شي، چې د مارکېټ اړتیا به پوره کړ
ي. په دې سره یوازې روسیې ته ګواښ دی، چې غواړي د تېلو د تولید کمښت ختم کړي. دا یوه
ښکاره لوبه ده او هر څوک چې سیاسي پوهه ولري پرې پوهېږي. د امریکا ولسمشر له سعودي عر
ب څخه وغوښتل چې د تېلو تولید زیات کړي، څو په نړیوالو مارکېټونو کې د تېلو بیې راولوېږي او
په دې سره روسیه د تېلو د تولید کمښت ته تشویق شي. داسې ښکارې چې روسیه غواړي د امری
کا د فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي، خو له سعودي څخه وېرېږي او د اړتیا له مخې له سعودي
سره په همږغۍ د تېلو په تولید کې کمښت راولي. د بېلګې په توګه ټرمپ د یکشنبې پر ورځ په یوه
ټویټ کې وویل: «ما له پاچا سلمان بن عبدالعزیز سره خبرې وکړې او ترې ومې غوښتل، چې د ت

ېلو تولید ډېر کړي. ښايي د ورځې ۲۰۰۰۰۰۰ بېلره تولید کړي، څو په دې سره د بیو د لوړېدو مخ ه ونیول شي او پاچا سلمان هم زما غوښتنه منلې ده.» (العربیه الجدید۲۰۱۸/۷/۱)

د موضوع د ښه روښانتیا لپاره د پوښتنې او ځواب مخکنې خپره شوې لیکنه ولوله؛ په هغې لیکنه کې بشپړ ځواب موندلی شې... او الله سبحانه و تعالی د بشپړې پوهې او پوره بصیرت خاوند دی.

**د الله په امان**

**ستاسو ورور**

**عطا بن خلیل ابو رشته**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالحجې ۳مه**

**۲۰۱۹م کال، د اګیسټ ۴مه**